مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۴/۰۱۰/۰۱

# د فتوی په باره کې مختصر بحث

(پنځلسمه برخه)

اگر بینی که نابینا و چاه است
وگر خاموش بنشینی گناه است
که ړوند ووینې په سترګو چې کوهي ته ور روان دی
که خاموش کښېنې ګناه ده او ایمان ته دې تاوان دی

**پیر او مرید:**
د اسلام د انحطاط او کمزوره کېدلو عوامل خو به ډېر وي خو هغه عوامل دلته زموږ د بحث موضوع نه ده؛ البته یو عامل چې اسلامي نړۍ ته یې ډېر زیات تاوان رسولی او په ځینو وروسته پاته اسلامي هیوادونو کي د انحطاط مهم عامل بلل کېدلای سی هغه د پیرۍ او مریدۍ وجود دی. پیرۍ او مریدۍ خو به تاوانونه ډېر رسولي وي خو څو عمده تاوانونه یې، چې په ټولو هیوادونو کې عام دي:

۱: د انسان څخه د ارادې قدرت سلبوي. پیر په هر څه پوهیږي. مرید د سوال او اعتراض حق نه لري او ښه مرید هغه دی چې هر څه په پټو سترګو ومني:

به می سجاده رنگین کن گرت پیر مغان گوید
که سالک بی خبر نبود ز راه و رسم منزلها
( حافظ شیرازی)

ترجمه: په سرو میو کړه رنګینه مصلی که دی پیر وایي
چې سالک بې خبر نه دی پر دې لار له منزلونو
مخکې مو وویل چې شیخ شهاب الدین سُهروردي د پیر او مرشد حکم د خدای حکم بولي. که سړی ځان مسلمان بولي نو د خدای امر به ولې نه مني. او تر دې لا بدتره د ذوالنون مصري خبره ده چې وایی : « هغه مرید نه دی چې د خدای تر فرمان د پیر د فرمان زیات تابع نه وي» نعوذبالله! عطار، تذکرةالاولیاء جلد اول ص ۱۲۶
تر دې لا لوی کفر د مشهور صوفي شیخ ابوالحسن خرقاني خبره ده چې خپلو مریدانو ته وایي « کله چې خپل وجود نیست کړی نو هرڅه به تاسی یاست. خدای تعالی وایی نور مخلوقات ما پیدا کړی دي صوفي ما نه دی پیدا کړی. یعني نیست یا بې وجوده ته ، مخلوق نه سي ویل کېدلای. او د دې خبرې یوه معنی دا ده چې صوفي له عالم امر څخه دی او په عالم خلق اړه نه لري» هغه کتاب جلد دوم ص ۲۰۲
موږ ټول مسلمانان، حق متعال، مطلق خالق بولو او چې څه په سترګو لیده کیږي او نه لیده کیږي د ټولو موجوداتو خالق همدغه یو الله ج دی. هغه څه چې په سترګو نه لیده کیږي لکه مینه، قهر، دوستي، دښمني، فکر، عقیده، ایمان، کفر او... ټول حق متعال پیدا کړي او د هغه ذات په اراده کې دي ځکه یې موږ خالق مطلق بولو. مګر صوفي خرقاني وایی چې صوفیان د حق متعال مخلوق نه دی. نعوذبالله!. البته کشکې دا د صوفي خرقاني عقیده وای موږ به ویلي وای چې هر څوک یوه سه خپله عقیده. خرقاني په الله ج پوري تهمت کوي او خپل چټیات او مزخرفات د هغه جناب کبریا کلام بولي.
پیران، په داسي حال کې چې ځانونه تر ټولو ښه مسلمانان بولي، پر حضرت رسول اکرم ص باندې دروغ وایي او خپلو مریدانو او عوامو ته د هغه مبارک له قوله وایی چې: لادین لهُ لمن لا شیخ لهُ. څوک چې پیر نه لري هغه دین نه لري. او د پیغمبرص له قوله ورته وایی چې هر څوک چې شیخ نه لري نو شیطان یې شیخ دی. طبیعي خبره ده چې هیڅوک نه غواړي شیطان یې شیخ وي نو کوښښ کوي چې ځان په لوی لاس یوه ټګ ته ورتسلیم کړي. په داسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

حال کي چی حضرت پيغمبر ص په خپل ټول ژوند کي يو ځل هم د شيخ کلمه، چي مطلب يې پير او مرشد وي، پر خوله نه ده راوړې.

۲: پيران د کراماتو او خُرافاتو په کيسو او د دروغو په خوبونو د مريدانو او په عمومي صورت د ټولني د بېسوادو خلکو پر اذهانو او مغزونو باندي داسی غلبه کوي چي د عقل قوه يې ورڅخه سلبوي. پير لکه څرنګه چي په دم اوچُف د کلونو رنځوران او حتی معيوبين جوړوي دغه راز، په همدغه دم او چُف، د خلکو دين او دنيا خرابولای سي؛ او خلک يې له قهر او آزاره ځانونه ژغوري. شته من کسان نغدی پيسې او د لنګر خرڅ ورته راوړي او نېستمن کسان څوک يوه توره چرګه، ځوک لس دوولس هګۍ او ځوک د خپل عيال له خولې سپمولي اوړه او غوړي ورته راوړي.

۳: دريم تاوان يې، چی تر لومړيو دوو تاوانونو په کمه نه دی بلکه لا ښايی زيات وي هغه له مريدانو څخه د انساني غرور ، شخصيت او غيرت سلبول دي. پيران هيڅ کار نه کوي او تل د مريدانو او جاهلو اولسونو په سوغاتونو او خيراتونو چليږی؛ نو مريدان هم د ځان په ډول تربيه کوی. د مريد غاړي ته کچکول اچوي. په بازارونو او کوڅو کی يې ګدايی ته ګوماري او پلمه يې دا وی چی ګويا په خپلو مريدانو کي شيطاني او نفساني غرور وژني. ابوبکر شبلي چي ويل کيږي يو وخت د دماوند امير وو او له وظيفې څخه يې استعفا وکړه او لوی شيخ سو. مخکي له هغه چی لوی پير ورڅخه جوړ سي د هغه پير، شيخ جنيد بغدادي هغه يو کال د ګوګړو خرڅولو ته مجبور کړ. يو کال يې ګدايی ورباندي وکړه او يو کال يې د خانقاه خدمت ورباندي وکړ او وروسته يې پوښتنه ورڅخه وکړه چي ابابکره څه حال لرې؟ هغه ورته وويل چي خپل ځان تر ټولو بنده ګانو کښته راته معلوميږي. جنيد ورته وويل چی اوس دي ايمان کامل سو. هغه کتاب ص ص ۱۳۶-۱۳۷
ابوسعيد ابی الخير، چي يو وخت پخپله لوی شيخ سو، نکل کوي چي په لومړي سر کي يې د درويشانو خدمت ته ملا وتړله او د هغوی مبرزونه به يې پاکول او چټلی به يې دباندي غورځولې. وروسته يې د درويشانو لپاره په ګدايی پيل وکړ. په لومړي سر کي به خلکو يو دينار ورکاوه او بالاخره خبره دې ځای ته ورسېده چي چا به هيڅ نه ورکول او د درويشانو د ډوډۍ لپاره به يې خپلي جامې او څپلۍ خرڅولې. اسرارالتوحيد ص ص ۳۱-۳۲
شيخانو خپل دې پست عمل ته، چي له هندوسادوګانو او جوګيانو څخه يې کاپي کړی دی، شرعي لاره تراشلې او د خپل دې ټيټ عمل د توجيه کولو لپاره يې پر پيغمبرص باندي تهمت ويلی او يو حديث يې جعل کړی دی چي « الفقر فخری» فقر زما افتخار دی. په داسي حال کي چي حضرت پيغمبرص هيڅ وخت فقير نه وو او چي له مکې مکرمې څخه يې مدينې ته هجرت وکړ نو نه يوازي يې د ابوبکر صديق او عثمان بن عفان په څېر شته من ملګري درلودل بلکه انصارو خپل کورونه او مالونه په اختيار کي ورکړل او د بدر له غزا څخه وروسته مسلمانانو مستقيماً په تجارت او کسبونو کي برخه درلوده او هيڅ يو يې فقر او ګدايي ته مجبور سوی نه دی؛ د حضرت رسول ص د فقر خبره خو لا هلته پرېږده. د حضرت رسول ص د فقر او نېستمنۍ کيسې، د سل هاوو زرو جعلي احاديثو په څېر، سوونه کلونه وروسته جوړي سوي دي.
ځينو لوستونکو ته به حتماً سوال پيدا سوی وي چي تر دغه ځايه پوري خو بحث د فتوا په باره کي وو؛ دلته تصوف څرنګه مطرح سو؟
مخکي له هغه چي زه د لوستونکو دې پوښتني ته جواب ورکړم؛ پخپله به له هغوی څخه سوال وکړم چي تاسي کوم وخت کوم مُلا ليدلی دی چي د لويو صوفيانو د کفرونو په باره کي يې يا څه ويلی او يا يې يو څه ليکلي وي او د هغوی څرګند کفرونه يې محکوم کړي وي؟
لوستونکو ته به معلومه وي چي سلطان محمودغزنوي پر هند باندي ۱۲ ځله يرغلونه وکړل. په سلهاوو معبدونه يې وران ګړل او په سل هاوو زره هندوان يې قتل کړل او بې حسابه خزانې يې غنيمت کړې. سلطان قطب الدين ايبک، سلطان شمس الدين التمش، سلطان علاءالدين خلجي، سلطان سکندرلودي، سوري شېرشاه او بالاخره احمدشاه بابا، هر يوه په خپل وار د هندوانو د درمسالونو او بتخانو په نړولو او د هندوانو و په وژلو کي برخه درلوده او هر يوه، دا حملې او جنګونه، د اسلام د مقدس دين د اعتلاء او د کفر او شِرک د ريښو ايستلو په نيت کړي دي.
تر دې ځايه خو زما هيڅوک مخالفت نه سي کولای. مګر زه پخپله د پاکستان د سيند د ايالت په سېوڼ کي د شهباز قلندر زيات ته ورغلی يم. ما په هغه زيارت کي د قلندر پر قبر باندي طوافونه ليدلي دي، د قلندر د جنډۍ مچول، د قبر مچول او حتی قبر ته سجدې مي ليدلي دي. زه يقين لرم چي دا کارونه به نورو ډېرو مسلمانانو ليدلي او حتی برخه به يې پکښی اخيستې وي. سوال دا دی چي آيا دا څرګند شِرک نه دی؟ هيڅوک نه سي ويلای چي دا شرک نه دی. نو د قلندر زيارت که درمسال نه وي د شِرک يو لوی مرکز خو دی. ما له هيڅ ملا څخه نه دي اورېدلي چي د قلندر په زيارت کي يې دا جهل او څرګند شرک او کفر محکوم کړی وي. په داسي حال کي چي د ملايانو اصلي وظيفه دا ده چي عوام وحدانيت پرستی ته را وبولي او په شرک يې لومړی پوه کړي او بيا يې ورڅخه منع کړي.
ټولو ته معلومه ده چي د مسلمانانو په سلو کي تر ۹۵ زيات کسان زيارتونو ته د مرستي غوښتني او حاجتونو د پوره کېدلو لپاره ځي؛ په داسي حال کي چي له الله ج څخه پرته له هيڅ زيارت او ولي څخه د مرستي غوښتل ناروا او حرام دي. الاحقاف سورة ۴۶ پنځم او شپږم آيتونه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

و من اَضلُّ مِمَّن يدعوا من دون اللهِ من لا يستجيب لهُ الى يوم القيامةِ و هُم عن دُعاءِهِم غافلون (۵)
څوک به تر هغه ډېر ګمراه وي چې د الله تر څنګ نور څوک مرستې ته رابولي او هغوی به تر قيامته پورې د دوی خواستونو او غوښتنو ته جواب ورنه کړي او هغوی به د دوی له غوښتنو او خواستونو څخه بيخي خبر هم نه سي.
و اِذا حَشَرَ النّاسُ کانُوالهم أعداءً و کانوا بعبادتهم کفرين ( ۶)
او کله چې د قيامت په ورځ خلک حشر سي هغه کسان به چې دوی ننګولي دي د دوی دښمنان سي او د دوی له عبادتونو څخه به بېخبره وي.
په داسي حال کي چې حضرت رسول پخپله وايي چې زه، د حق متعال له رضا پرته، خپل ځان ته د خير رسولو توان نه لرم اوکه په غيب خبر وای نو ځان ته به مې ډېره ګټه رسولې وای او هيڅ تاوان به نه را رسېدلای. زه فقط مومنانو ته خبرداری او زيری ورکوم. الاعراف سورة ۷ آية ۱۸۸
قلندران او شيخان که جنت ته تلل نو د اسلام د دين د منلو او د شهادت د کلمې د ويلو له برکته به ځی. په داسي حال کي چې د همدغه اسلام د دين پيشوا، په ژوند کي، خپل ځان ته د خير رسولو توان نه لري نو له قلندرانو او شيخانو سره دا توان له کومه سو چې له خپل وفات څخه سوونه کاله وروسته له خلکو سره مرستې کوي؟
موږ د دې خبرو سپينولو ته ډېره اړتيا نه لرو بلکه په زغرده وايو چې زيارتونو ته تلل او له مړو څخه مرسته غوښتل د قرآن شريف په حکم ناروا او څرګند شرک دی. شيخان او د هغوی محتسبين که خلک له منکراتو څخه را ګرځوي او بېګناه خلک، په عام محضر کي، په دُرو وهي او له اسلام څخه يې متنفر کوي نو بايد چې د دې پر ځای د شرک مخه ونيسي او د زيارتونو جنډيو ته اورونه واچوي او ټګ شيخان او د زيارتونو متوليان پرې نه ږدي چې نور هم د شرک د پراخېدلو سبب سي.
د هجرت په دريمه سليزه کي يوه طايفه خلک را پيدا سول چې په ډېر لږ وخت کي د اسلامي نړۍ په ټولو سيمو کي تيت سول او ځانونه يې اولياءالله وبلل. دې خلکو، چې د دوی په قول يې د خارق العاده کارونو او کراماتو د څرګندولو قدرت درلود، د غيب ويلو ادعا يې کوله او خلکو ته يې داسي ښودله چې دوی د هغوی په زړونو خبر دي او چې هر څه يې زړه وغواړي هغه کولای سي. خلکو ريښتيا هم فکر کاوه چې اولياءالله به يوه خاصه طبقه خلک وي چې خاص مقامات به لري او هر څوک د هغوی مقام ته رسېدلای نه سي. په داسی حال کي چې اولياء دوستان او ملګرو ته وايي او دوست يو عام مفهوم دی. حق متعال د قرآن شريف د سورة يونس په ۶۲ او ۶۳ آياتونو کي ويلي دي اولياءالله هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی او پرهېز کوي او له حق متعال څخه وېره لري. په ايمان کي خو ټول مسلمانان سره شريک دي او چا چې ايمان راوړی نه وي هغه مسلمان کېدلای نه سي. پاته سوه د تقوا خبره؛ تقوا خو پرهېز او له حق متعال څخه وېرې ته وايي. هر څوک چې تقوا ولري، فرض پر ځای کړي، د بل حق ونه خوري او په عمومي صورت ځانونه له کبيره ګناهونو څخه وساتي هغه اولياءالله دي. البته نه په قرآن شريف او نه په احاديثو کي راغلي دي چې اولياءالله کرامات لري، ښارونه خرابولای او آبادولای سي او يا د مرغانو په څېر الوزي او د انسانانو په زړونو خبر دي.
څرګنده خبره ده چې حضرت رسول ص پخپله وايي چې ځان ته د خير رسولو توان نه لري او که په غيبو خبر وای نو په ژوند کي به يې ځان ته ګټه رسولې وای او هيڅ تاوان به نه ورته رسېدلای. اولياءالله په دې برخه کي له ډېرې هوښياری څخه کار اخلي. ځانونه د انبياوو د پښو خاورې بولي او په ډېر عجز وايي چې نهاية الاولياء بداية الانبياء. يعني د اولياوو وروستی مقام ايله د انبياوو لومړني مقام ته ورسيږي. مګر په عمل کي د داسي روحاني قوتونو ادعا کوي چې حتی انبياوو يې ادعا نه وه کړې. دغه علت دی چې خلک يې له روحاني قوت څخه وېره لري او د قبرونو څخه يې د خير او برکت غوښتنه کوي. د صحيح بخاری، صحيح مسلم او ټولو معتبرو احاديثو د څرګندو احکامو په خلاف يې قبرونو ته ورځي او حتی قبرونو ته يې د سجدې کولو او شِرک مرتکب کيږي.
د شيخانو او صوفيانو تقريباً ټول مشران ډېر لوی شاعران ول او پر عربي ژبه باندي يې ډېر ښه تسلط درلود. دوی د خپلو شعري استعدادونو څخه دا ګټه پورته کړه چې خلکو ته يې داسي اشعار او نظمونه تقديم کړل چې څوک به يې په معنا نه پوهېدل او که به يې په معنی وپوهېدل نو هغه به زياتره سوچه کفرونه وه خو خلکو به هغه د خدای د دوستانو باطن باله . صوفيانو د قرآن شريف آيتونه جوړولای نه سوای ځکه چې قرآن شريف د لس هاوو زرو انسانانو په ياد وو او په هغه کي د لاس وهلو توان چا نه درلود مګر د قرآن شريف د آيتونو غلط او پر خپلو صوفيانه افکارو برابر تعبيرونه او تفسيرونه به يې کول.
د احاديثو په باره کي هسي هم زيات اختلافات موجود ول؛ او دوی له دغو اختلافاتو څخه دا ګټه واخيسته چې احاديث يې جعل کړل. ځينو جعلي احاديثو ته مو مخکي هم اشاره وکړه او يو حديث چې شيخ شهاب الدين سهروردي جعل کړی دی او ډېرو صوفيان په خپلو آثارو کي کار ورڅخه اخيستی دی دا دی چې وايي حق متعال حضرت رسول ص ته وويل: کله چې يو بنده زما په ذکر مشغول سي نو زه هغه نور هم په خپل ذکر مشغول کړم او شيطان نه پرېږدم چې د هغه په زړه کي وسوسې واچوي. دا کسان ابدال دي او د هغوی هره خبره د انبياوو خبره ده. هر وخت چې زه وغواړم خپل دښمنان له منځه يوسم نو دا کار په ابدالو کوم او هغه زما عسکر دي. سهروردي، عوارف المعارف ص ۳۴
په داسي حال کي چې حضرت رسول اکرم ص هيڅ وخت د ابدال او شيخ کلمه پر خوله نه ده راوړې خو شيخ سُهروردي د ابدال لپاره، چې د اولياوو په درجو کي دوهم تر ټولو کښته طايفه ده، دا حديث جعل کړی دی او د ابدال


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

خبره يې د انبياوو كلام بللى دى. هجويري ليکي چې په دنيا کې ۴۰۰۰ نېکان دي چې د هغوى له برکته باران اوري او له مځکې څخه نباتات شنه کيږي او د دوی له برکته مسلمانان پر کفارو باندي برى پيدا کوي. دغه ۴۰۰۰ تنه پټ دي او يو بل نه سره پيژني. دا کسان د خپل حال له جمال څخه هم خبر نه دي. هجويري ليکي هغوى چي اهل حل و عقد دي او د حق متعال د درګاه منصبداران دي هغوى ۳۰۰ تنه دي چي اخيار يې بولي. ۴۰ نور دي چي ابدال يې بولي. نور ۷ تنه دي چي ابرار دي. ۴ تنه اوتاد دي او دري تنه نقيبان دي. د دې ټولو په سر کې قطب دى چې غوث يې بولي. دوى ټول له يوه بل سره پيژني او ټول اولياء دي. هجويري، ص ۲۶۹

قلندران څوک دي؟

زيات و کم پنځوس کاله مخکې مې په يوه کتاب کې لوستي وه چې د شهباز قلندر اصلي نوم سيد عثمان او د پلار نوم يې سيدکبير دى او د دوولسمي ميلادئ پيړئ په اتيا لسيزه کې په هرات کې زيږيدلی دى. د هغه د ژوند په باره کې نور معلومات نه وه ورکړه سوي او دا چې هغه کله هند او وروسته سند ته تللی دی هم چنداني چاته څه څرګند نه دي او که څه ليکل سوي دي نو له افسانو پرته به بل ارزښت ونه لري.

اخوند درويزه د اووه لسمي ميلادي پيړئ په سر کې د يوه بل شهباز قلندر په باره کې، چي د دلازاکو په سيمه کې، چي وروسته يوسفزيو ورڅخه لاندي کړه، اوسيدی. اخوند درويزه وايی په هغه زمانه کې يو سړی چي له خراسان څخه راغلی وو او ځان يې شهباز قلندر باله د لنګر په علاقه کې د هنجکزي په قبيله کې ځای ونيوی. اخوند درويزه وايي دې لعين وروسته د سيمي خلک رافضي او ملحد کړل او خلک يې له روژې او لمانځه څخه را وګرځول او هغه څه يې رواجول چې په شريعت کې ناروا وه. . . . درويزه، تذکرةالابرار والاشرار ص ص ۱۵۹-۱۶۰

اخوند درويزه په دې برخه کې له ټولو افغانانو څخه شکايت کوي او وايي چې هر څوک چي له ځان حخه شيخ جوړ کړي او د پښتنو يو قومي مشر په ځان پسې کړي نو د هغې سيمي او قوم ټول خلک ورپسې سي. هغه ته غوايي او پسونه حلالوي او کامل او مکمل يې بولي . هغه کتاب ص ۹۲

خوشحال خان خټک هم د هغه دور او زمان له خُرافاتو څخه، چي له بده مرغه تراوسه پوري په پښتنو کې رواج لري، شکايت کوي. او په يوه نظم کې وايي:

پښتانه په هغه دور پير پرست وو
څوک مريد د شاه عيسی څوک د سرمست وو
په مذهب کې درست خټک سني مذهب دی
اما پير ورته له جهله لکه رب دی
که په داسبب کافر وي ګوندي وينه
کنه واړه په مذهب کې سني دينه
يوسفزيه همه واړه عيسايي وو
ملکانو سره ګډ په سوايی وو
قاسمي شاه عيسايی سره په جنګ وو
روشاني پير منصوري سره دارنګ وو.

د قلندرانو، ټګانو او کوډ ګرو پيرانو دا لوبه له خوشحال خان څخه ډيره مخکې روانه وه او تر اوسه پوری يې په يوه او بل شکل دوام کړی دی؛ او لا يې زور اخيستی دی. تر څو چې په ټولنه کې جهالت حاکم وي او تر څو چې د عصري سواد او تعليم کمی وي د قلندرانو او ټګانو لنګرونه به چالان وي.

څرنګه چې قلندرانو او درويشانو کورونه او د اوسيدلو مشخص ځايونه نه درلودل او له يوه کلي تر بل کلي اوښارونو پوري يې سفرونه کول نو هر ځای چې مړه سوي دي هلته خلکو زيارتونه ورباندي جوړ کړي دي. زه يقين لرم چې د هند په خاوره کی به د دې قلندرانو نور زيارتونه هم موجود وي ځکه چې په کندهار کی د پنجوايي په علاقه کې د شيخ قلندر زيارت دی او په کال کی يې په لس هاوو زره عالمونه زيارت ته ورځي او د اخترونو د مېلو يو مرکز دی. دغه راز د کندهار په پنځمه ناحيه کې د ده خواجه په علاقه کې يوه غونډئ د شيخ قلندر په نامه ده او هلته د قلندر يو زيارت دی.

قلندران کومه خاصه عقيده او لاره نه لري. دا د ټولني تر ټولو بېکاره او حتی مضر قشر وو. ږيري به يې خريلي، بريتونه به يې غټ کړي وه. له يوې خيرني ګودړئ او کچکول سره به په کورونو، معمولاً په شپه کې، ګرځېدل او ګوزاره يې په ګدايی وه. چرس به يې څکول او بنګ به يې چېشل او په هندوستان کې خو له هندو سادوګانو سره ګډ ګرځېدل او له هغوی سره يې چنداني توپير نه کېدی.

فرانسوی سياح او تاجر تاورنيه Tavernier ،چې د شاه جهان او د هغه د زوی محی الدين اورنګزيب د پاچهيو په وخت کي يې هند ته سفرونه کړي او پکښی ګرځېدلی دی، ليکي چې په هند کې ۸۰۰ زره مسلمان فقيران او ۱،۲۰۰،۰۰۰يو ميليون دوه سوه زره بت پرستان فقيران ګرځي. تاورنيه وايي دې کسانو ټول خلک په دې غولولي دي چې وايی هر څه چې د دوی له خولو ووزي هغه ريښتيا کيږي. ځينې مسلمان فقيران لکه بت پرست فقيران تقريباً لوڅ ګرځي او د اوسېدلو هيڅ ځای نه لري. تاورنيه وايی دوی هيڅ نه شرميږي او ټول هغه کارونه کوي چې د نه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کولو دي او ساده خلک يې په دې غولولي دي چي وايی دوی ته د هري ناروا اجازه سته او بازخواست نه ورڅخه کيږي.

تاورنيه وايي ځينو يې رنګيني ګودړی اغوستي وي او ځيني ګدړی خو دومره زړې او خيرني وې چي رنګ يې نه معلوميږي او هر څونه چي يې ګودړی زړه او خيرنه وي هغه زيات معتبر وي. تاورنيه وايی په دغو فقيرانو يوه لويه ډله پسې وي او په هرځای کي چي يې زړه سي هلته نابلده آوازونه باسي او په مشر فقير پسي روان فقيران د خپل مشر د کراماتو کيسې کوي او خلکو ته وايي چي مشر يې د خدای نازولی دی او خدای هغه ته ډېر مهم اسرار وايي او د ا توان يې وربخښلی دی چي د کلونو ناروغانو او هغو کسانو ته شفا ورکوي چي طبيبان يې له علاجه عاجز سوي وي.

تاورنيه ليکي چي د دغه لوی فقير مريدان خلکو ته داسي کيسې کوي چي هغوی يې تر اغېزې لاندي راځي او کله چي غواړي دا پير اومرشد ووينې نو لومړی خپلي څپلی باسي، وروسته يې په مخ کي پړمخي پرېوزي او پښې يې ورمچ کړي. پير، د تواضع ښودلو په ډول، خپلي پښې ليري کوي او د مچولو لپاره لاس ور اوږدوي. او ځيني مشر فقيران خو تر ۲۰۰ پوري مريدان لري؛ چي له پير سره سفر کوي. نېزې او تبرونه ورسره وي او کله چي پير غواړي په يوه ځای کي دربار وکړي نو يو مريد يې ډول وهي او بل يې تروم وهي څو خلک را غونډ سي او پيرته تحفې او سوغاتونه راوړي. Tavernier, Vol2 PP 139-141

فرانسوا برنيه، چي د اورنګزيب په زمانه ۱۶۵۷- ۱۷۰۷ کي يې په هند کي سفرونه کړي ول، د دغو لوڅو فقيرانو او درويشانو په باره کي، چي د ده ډېر زيات نفرت ورڅخه کېدی، وايی چي د سرمت په نوم يوه مشهور او مهم درويش څخه يې ډېر بد کېدل. برنيه وايي اورنګزيب ډېر کوښښ وکړ چي دغه درويش له لوڅ ګرځېدلو څخه منع کړي خو د غه درويش نه د اورنګزيب له خوا په پېشنهاد سويو امتيازاتو کی ری واهه او نه د هغه له تهديدونو څخه وبېريدی او تر پايه يې د جامو اغوستلو او يا ځان پټولو ته غاړه کښېښوده. بالاخره اورنګزيب له هغه څخه سر غوڅ کړ.

برنيه ليکي يو شمېر دغه فقيران نه يوازي، په لوڅ بدن اوږده اوږده سفرونه کوي بلکه لا يې داسي ځنځيرونه پر ځان پېچلي وه چي پيلان په تړل کيږي. برنيه وايي ما داسي درويشان هم ليدلي دي چي اووه يا اته شپې او ورځي به ولاړ ول او کله چي به ډېر ستړي سول نو يوه تناو ته به يې ځانونه تکيه کړل او څه وخت وروسته به بيرته هماغسي ودرېدل او پښې به يې د دوی د ورنونو په اندازه پړسېدلي وې. Bernier P 317

د هند او د شاوخوا سيمي د درويشانو او قلندرانو په باب د اروپاييانو او په هغه سيمه کي له ټولو ليکل سويو کتابونو او اسنادو څخه ښکاري چي درويشي او قلندري له هندوانو څخه اسلام ته راغلې او د اسلام په دين کی يې نه ذکر سوی او نه جايز کار بلل سوی دی. جاهل او بې خبره خلک، د قلندرانو له ښراڅخه بېرېدل، هغوی يې نازول او د هغوی کچکولونه يې هيڅ وخت خالي نه پرېښودل.

څرنګه چي قلندران او درويشان، چي ټول بېکاره، ټنبل او ګدايان ول او د هندو جوګيانو او سنياسيانو له ډلو سره به ملګري ول نو بالاخره يې د هغوی ځيني ټګی ورڅخه زده کړې او يوه خاصه ډله يې منځته راوړه چي مداريان يې بلل. مداريانو توري بګړی تړلې او تور بيرغونه يې درلودل. ځانونه يې سنيان مسلمانان بلل خو لمونځ او روژه يې نه پېژندل او ټول وخت به يې د بنګو په چښلو تېراوه. په دوی کي چي به هر چا ډېري بنګي په يوه ځل وچښلې نو هغه د دوی کامل وو. د دوی لوی پير او مرشد بديع الزمان مدار نوميږي ځکه نو يې ډله او پيروان د مداريانو په نوم يادېږي.

مداريان خپل مرشد او پېشوا ته په دونه لوی قوت قايل دي چي وايی د هغه مقام ته انبياء هم رسېدلای نه سي. دوی په خپلو منځونو کي وايي چي کله پيغمبرص معراج ته ولاړ نو هلته د خدای فرمان ورته ورسېدی چي د جنت ليدنه بايد وکړي. کله چي پيغمبرص د جنت دروازې ته ورسېدی نو ويې ليدل چي هغه دروازه د ستني د سپم په اندازه تنګه وه. جبرييل ورته وويل چي داخل سه. پيغمبرص ورته وويل چي تر دې تنګ سوري څرنګه تېر سم. جبرييل ورته وويل چی ږغ کړه چي دم مدار! کله چي پيغمبر دم مدار وويل نو هغه وړوکی سوری دونه پراخ سو چي پيغمبر په آسانی ورڅخه تېر سو. فاني، دبستان مذاهب ص ۱۹۰

له برهمنانو څخه يو تن وو چي تخلص يې آزاده کاوه. زياتره وختونه به د مسلمانانو په محفلونو کی کښېناستی او له هغوی سره به يې ډوډی خوړل او شراب به يې ورسره چښل. يوه ورځ هغوی په مجلس کي ورته وويل چي ته هندو يې زموږ مسلمانانو سره څرنګه ډوډۍ خورې ځکه چي دا خو ستا په مذهب کي ناروا کار دی آزاده وويل زه خبر نه وم چي تاسی مسلمانان ياست په آينده کي ستاسي سره نه کښېنم. بله ورځ يې بيا له هغې ډلي سره شراب چښل هغوی ورته وويل چی تا خو ويل چی زه له مسلمانانو سره ډوډۍ نه خورم او شراب به نه ورسره چښم. آزاده ورته وويل زه پوهېږم چي تاسي ټوکي کوی خدای دي نه کوي چي تاسي به مسلمانان ياست.

دغه راز د هيرامن کاتيه زوی، بنوالي په اشعارو کي ولي تخلص کاوه. له وړوکوالي څخه يې له درويشانو او د هغوی له مجلسونو سره مينه وه. په هغه وړوکوالي کي د خليفةالارواح په نوم يوه صوفي مريد سو او له هغه څخه يې دا ذکر زده کړی وو چی « اللهُ حاضري وَاَحدي اللهُ شاهدي» په ۱۰۴۴ هـ ق کي يې د هند د درويشانو له يوه صحبت څخه ګټه واخيسته او په کشمير کي د ملاشاه بدخشي مريد سو. بنوالي په دې عقيده وو چي صوفي مذهب نه لري نو هم بتخانې ته تلی او هم به مسجد ته روان وو. هغه کتاب ص ۱۵۵



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دې توګه هندو جوګیان او سنیاسیان او مسلمان درویښان او قلندران دونه سره ګډسول چي نه د هغوی په منځ کي توپیر موجود وو او نه یې خلک په توپیر پوهېدل. کله چی به یو جوګي مړ سو نو هندوانو به یې مړی وسوځاوه خو کله چي به مسلمان درویښ او قلندر مړ سو نو ملګرو به یې زیارت ورباندي جوړ کړ او د کراماتو کیسې به یې، چي د قلندر یا درویش خپلو ملګرو به جوړي کړی وې، خوله پرخوله کېدلې او بېخبرو مسلمانانو به یې زیارت ته پیسې او خیراتونه ور وړل او په هر ښار او ناحیه کي د قلندرانو او درویښانو زیارتونه منځته راغلل.

داچي تصوف له ځان سره څه ډول نابلده افکار، چي نه پر عقل برابر او نه په کتاب کي پیدا کیږي، راوړي او دا چي تصوف له شریعت سره څومره مخالف دی په هر صورت. تصوف ټول پر دروغو او افسانو باندي ولاړ دی او چي دروغ، مبالغې او افسانې ورڅخه لیري سي تصوف له سره نه پاتیږي. دلته د ډیرو مثالونو لپاره ځای نه لرو؛ که څه هم چي د هغوی د دروغو کیسې او افسانې یو بشپړ لوی کتاب غواړي. تاسي، د مثال په ډول، دې کیسې ته یو څه فکر وکړی: « د عمر بن خطاب په زمانه کي یو سړی هغه ته ورغی او زوی یې ورسره ملګری وو. عمر ورته وویل چي دا زوی دي تاته داسي سوی دی چي ما هیڅوک داسي یوه بل ته ورته نه دي لیدلي. هغه سړي ورته وویل دا یوه عجیبه کیسه لري. کیسه داسي ده چي زه یو وخت په سفر تللم او مېرمن مي حامله وه. هغې راته وویل چي ته په سفر ځې او ما یوازي پرېږدې. زه هیڅوک نه لرم. ماورته وویل هغه چي ستا په نس کي دی هغه مي پر الله سپارلی دی. کله چي له سفر څخه راغلم د دې هلک مور مړه وه. یوه شپه له یارانو سره ناست وم چي له یوه قبر څخه د اور لمبه زما سترګو ته راغله. ما ویل دا څه اور دی؟ یارانو مي راته وویل چي دا اور ستا د مېرمني له قبر څخه راغی. زه حیران سوم چي زما مېرمن خو عابده ښځه وه؛ د هغې له قبر څخه دا اور څرنګه راوزي؟ کلنګ مي واخیست او د مېرمني قبر مي وکینی. ومي کتل چي هلته په ګورکي یو څراغ لګېدی او دا نور د هغه څراغ څخه زما سترګو ته راغلی وو. د مېرمني مخي ته مي دغه زوی ناست وو. په دغه وخت کي هاتف راږغ کړه چي دا هغه هلک دی چي پر مورږ دي سپارلی وو او که دي د هغه مور هم پر مورږ سپارلې وای نو اوس به مو هغه هم ژوندۍ درسپارلې وای» سُهروردي، عوارف المعارف ص ص ۶۷-۶۸

دا یوه له هغو نامعقولو کیسو څخه ده چي د اسلام د یوه لوی شیخ شهاب الدین سُهروردي په کتاب کي راغلې ده؛ چي د صوفیانو د سهروردیه طریقه د هغه په نوم ده او په سل هاوو زره مریدان او پیروان لري. د دې ناممکني او نامعقولي کیسې مطلب څشي دی؟ هاتف، پرته له حق تعالی څخه بل څوک کېدلای سی؟ سړی له هغه ستر ذات سره دونه بې ادبي کوي؟ او داسی کیسه ورته منسوبوي؟ تصوف ټول له دغو افسانو څخه ډک دی او ټول دغه راز کفرونه دي چي مُلایانو، که ریشتیا ویلای او په ریشتیا یې هم د شرک پر ضد فتواوي صادرولای، باید د دغه راز کیسو لیکونکي یې په کفر او د حق متعال له ذات سره په بې ادبي محکوم کړي وای. که څه هم چي په تصوف کي دغه راز کیسې او نا معقولي افسانې بې حسابه دي؛ او لکه مخکي چي مو وویل تصوف له دې افسانو پرته مفهوم نه لري خو مورږ به دلته فقط د « پند پیران» په نوم یوه کتاب څخه یو څو مثالونه راوړو:

« په امه کي یوه ښځه وه چي معاذة العدویه یې بلله. هغې به شپه او ورځ طاعت کاوه او کله چي به د شپې خوب غلبه ورباندي وکړه نو ویل به یې چي اې زما وجوده دغه نن دي وروستۍ شپه ده. که دا نن شپه هم غفلت وکړې نو بیا به وروسته پښېماني څه ګټه وکړي. تولـه شپه به ویښه وه او سهار به یې خپل وجود ته ویل چي تېره شپه دي په ویښه تېره کړه. که دي دا د ژوند وروستۍ ورځ وه او په غفلت دي تېره کړه بیا به څه کوې. په دغه ترتیب یې پنځوس کاله تېر کړل او یوه شپه خوب یې ونه کړ» متیني، پند پیران ص ۲۴

« یو سړی وو صفوان بن سلیم یې باله. هغه له خدای سره وعده کړې وه چي تر څو ژوندی وي پر مځکه به اړخ ونه لګوي. څلوېښت کاله تېر سول او یو ځل یې هم اړخ مځکي ته ورنغی. او کله چي به خوب غلبه ورباندي وکړه نو څو شپېي به یې سر پر زنګانه کښېښود او بیرته به په طاعت مشغول سو» هغه کتاب ص ۲۵

« په بنی اسراییلو کي یو منافق سړی وو او ښځه یې موحده او شپه او ورځ په طاعت مشغوله وه. دغه ملعون خپلو یارانو ته وویل چي زما ښځه ټوله ورځ روژه وي او ټوله شپه یو ګړی آرام نه کوي او په لمانځه لګیا وي او هره شېبه وایي یا واحد. یارانو یې ورته وویل چي که غواړې د هغې له عذابه ځان بېغمه کړې نو کورته ولاړ سه او تنور ښه تود کړه؛ بیا نو پر مورږ ږغ وکړه. هغه سړي هم تنور درې ورځې له اوره ډک پرېښود او دریمه ورځ یې پر خپلو ملګرو باندي ږغ وکړ او هغوی هم ورته راغلل. هغوی ښځې ته وویل چي ته له سهاره ترماښامه یا واحد نارې وهې. که له واحد سره ستا دوستي حقیقت ولری نو ته به دغه تنور ته دننه سې. هغې ښځې هم بسم الله الرحمن الرحیم وویله او تنور ته ولوېده. هغوی هم د تنور سر پسي بند کړ. درې ورځې وروسته چي یې د تنور سر پرانیست ویې لیدل چي ښځه پر لمانځه ولاړه ده» هغه کتاب ص ۱۱۶

« د خلیفه هارون الرشید مېرمن زبیده نومېده. یوه ورځ په کور کي ناسته وه او وېښتان یې ږمونځول. نا څاپه خادم کورته ورغی او زبیدې سمدستي پوړنی پرسر کړ. له خادم څخه یې پوښتنه وکړه چي زما د سروېښتان دی ولیدل. هغه ورته وویل هو! زبیدې په هغه کړي دلاک را وغوښت او هغه ته یې امر وکړ چي د دې سر وخریی. کله چي یې پوښتنه ورڅخه وکړه چي ولي دي داسی وکړه دې ویل هغه وېښته چي نامحرم لیدلي وي؛ نه غواړم چی زما سره وي» هغه کتاب ۱۱۸

« یوه ورځ یوه ښځه پر لارې روانه وه. ترشایې وکتل او متوجه سوه چي یو ځوان ورپسې دی. یو ګړی وروسته یې له هغه ځوان څخه پوښتنه وکړه چي ولي په ما پسي راځې؟ هغه ورته وویل چی ستا سترګي مي ولیدې. درباندي مین



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سوم نو ځکه په تاپسي ځم. هغه ښځه کورته ولاړه او هغه سړی یې د کورمخي ته کښېناست. یو ګړی وروسته یوه مېنځه له کوره راووته او د هغه ځوان مخي ته یې یو طبق کښېښود. کله چي ځوان د هغه طبق سرلوڅ کړ ویې لیدل چي هغي ښځي خپلی دواړي سترګي ایستلي وې. هغي ښځي ویلي وه چي هغه سترګي چي نامحرم لیدلي وي نه غواړم چي زما سره وي» هغه کتاب ص ۱۲۰

یوه ښځه پنځوس کاله له سهاره تر ماښامه عبادت کوي او هیڅ خوب نه کوي. یو بل سړی ځلوېښت کاله خوب نه کوي. دا ممکنه ده؟ یوه ښځه، هغه هم د خلیفه هارون الرشید مېرمن، له دې امله سر خریي چي نا محرم سړي یې وېښتان لیدلي دي. او یوه ښځه خپلي دوې سترګي له دې امله باسي چي نامحرم سړي یې سترګي لیدلي او خوښي سوي دي. دا به کوم عقل ومني؟ زه ګومان نه کوم چي جاهل ترین سړی دي هم دا مزخرفات ومني. بالاخره دا کتابونه چاته لیکل سوي دي؟

« محمدحدیر رحمة الله علیه ویل: یو وخت وکیع د عبادان ښار ته تللی وو او هلته ځلوېښت شپې پاته سو. په دغه ځلوېښتو شپو ورځو کي یې ځلوېښت قرانه ختم کړل. ځلوېښت زره درهمه یې درویشانو ته وویشل. ځلوېښت زره حدیثه یې خلکو ته درس ورکړ او ځلوېښت زره رکعته لمونځونه یې وکړل؛ او په دې ځلوېښتو شپو ورځو کي یې یوه شېبه آرام ونه کړ» هغه کتاب ص ۲۲

دې سړي باید په هره ورځ کي یو قرآن ختم کړی وي. د ورځي په هر ساعت کي یې ۴۱ احادیث خلکو ته درس ورکړی وي او دغه راز یې په هر ساعت کي ۴۱ رکعته لمونځ کړی وي. دا کارونه په یوه ورځ او یوه شپه کي، چي لا د ډوډۍ خوړل، قضای حاجت او اودس کول هم ورسره اضافه کړو، امکان لري؟ البته ځلوېښت زره درهمه خو به یې لا د خپلو نوکرانو په وسیله وېشلي وي. دا نا ممکنات یوازي د هغه شیخ په عقل ممکن کېدلای سي چي دا کتاب یې لیکلی دی. کشکي دا یو کتاب وای. په تصوف کي، دغه راز، په سل هاوو کتابونه لیکل سوي او ټول له دغه ډول خرافاتو او مزخرفاتو څخه ډک دي.

تاسي یو وخت له ملایانو څخه اورېدلي دي؟ چي د تصوف غیراسلامي افکار، غیراسلامي افعال او غیر اسلامي افسانې یې محکومي کړي او پر ضد یې فتوا ورکړې وي؟

پاته لري

په افغان جرمن آنلاین کي پورتال د لیکوال آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ